
**هفته واره رساله**

د امیرِ اهلِ سُنّت دامت برکاتهم العالیه د کتاب "عاشقانِ رسول کی 130 حکایات" یو قسط

# د مکے مکرّمې جوماتونه

(پښتو)



- په مسجد الحرام کښې د حضورِ مصطفیٰ ﷺ د مصلّي 11 ځایونه
- د حضرت خدیجة الکبریٰ رضي الله عنها کور مبارک
- د نبي کریم ﷺ د ولادت مقام
- د حضرت میمونه رضي الله عنها مزار شریف

ترجمه
TRANSLATION DEPARTMENT
(DAWAT-E-ISLAMI)


شیخ طریقت امیرِ اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا ابو بلال

**محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوِي** دامت برکاتهم العالیه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيِّيْن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ط

# د مکي مکرمې جوماتونه [1]

دُعائے عطّار: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله "د مکې مکرمې جوماتونه" ولولي یا واوري د هغهٔ د حج او د عمرې سعادت نصیب کړې او هغهٔ سره د مور او پلاره او سره د خاندانه بے حسابه اوبخښې۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## درود شریف فضیلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې پهٔ ما باندې یو ځل دُرُودِ پاک ولولي الله پاک پهٔ هغهٔ باندې 10 رحمتونه نازلوي او څوک چې پهٔ ما باندې 10 کرته دُرُودِ پاک ولولي الله پاک پهٔ هغهٔ باندې 100 رحمتونه نازلوي او څوک چې پهٔ ما باندې 100 کرته دُرُودِ پاک ولولي الله پاک د هغهٔ د دواړو سترګو ترمینځه ولیکي چې دا د نفاق او د دوزخ د وور نه ازاد دے او هغهٔ به د قیامت پهٔ ورځ د شهیدانو سره ساتي۔ (معجم اوسط، 252/5، حدیث: 2735)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مسجِدُ الحرام

د مکې مکرمې د ټولو نه مشهور جومات، "مسجِدُ الحرام" دے، پهٔ دې کښې کعبهٔ مُشَرَّفه خپلې جلوې ښکاره کوي۔ پهٔ ډېرو حدیثونو مبارکو کښې دا

---

[1] ... دا مضمون د امیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د کتاب (عاشق رسول کی 130حکایات) د صفحه 227 نه تر 246 پورې اخستے شوے دے۔

خبره پهٔ واضحه طريقه شوې ده چې پهٔ مسجِدُ الـحرام کښې يو نـمونځ پهٔ نورو جوماتونو کښې د يو لاکه نـمونځونو د ادا کولو برابر دے- پهٔ قرآنِ کريم کښې پهٔ ډېرو ځايونو کښې د مسجِدُ الـحرام ذِکرِ خير شوے دے مثلاً د پينځلسمې سيپارې پهٔ وړومبي آيت کښې دي:

سُبۡحٰنَ الَّذِیۡۤ اَسۡرٰی بِعَبۡدِہٖ لَیۡلًا مِّنَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ اِلَی الۡمَسۡجِدِ الۡاَقۡصَا الَّذِیۡ (پ15، بنی اسرائیل:1)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: پاک دے هغه ذات چا چې پهٔ خپل خاص بنده د شپې پهٔ څهٔ حِصَّه کښې د مسجدِ حرام نه مسجدِ اقصیٰ پورې سيل وکړو-

## پهٔ مسجِدُ الـحرام کښې د 70 انبيائے کرامو علَيهِمُ السَّلام مزارونه

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت، مُجدِّدِ دِين و ملَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ پهٔ ” فتاویٰ رضويه“ جلد: 7، صفحه 303 نه تر 304 باندې نقل کړې دي: د کوم نبي يا ولي پهٔ خوا کښې جومات جوړول او د هغوئي د قبر مبارک پهٔ خوا کښې نـمونځ کول نهٔ په دي دوو نيتونو سره (يعني نهٔ د نـمونځ نه د قبر تعظيم مقصد وي او نهٔ د هغه قبر طرف ته د مخ کولو نيت وي) بلکې دې د پاره چې د هغوئي مدد ما ته راورسي د هغوئي د قُرب پهٔ برکت زما عبادت کامِل شي، پهٔ دې کښې هيڅ باک نشته چې پهٔ روايتونو کښې راغلي دي چې د اسماعيل عَلَيۡهِ السَّلَام مزار مبارک پهٔ ”حَطِيم“ کښې د مِيزَابُ الـرَّحمة د لاندې دے او پهٔ حطيم کښې او د حجر اَسود او زمزم ترمينځه د 70 پيغمبرانو (علَيهِمُ السَّلام) مزارونه دي او هلته د نـمونځ کولو نه چا هم منع نهٔ ده فرمائيلې- (لمعات التنقيح، 52/3)

# د "یا نبي چشمِ کرم" د یولسو حرفونو پهٔ نسبت سره پهٔ مسجدُ الـحرام کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نـمونځ کولو 11 ځایونه

﴿1﴾ پهٔ بیتُ الله شریف کښې دننه ﴿2﴾ د مَقامِ ابراهیم شاته ﴿3﴾ د مَطاف پهٔ غاړه د حجرِ اَسوَد په برابرئ کښې ﴿4﴾ د حَطِیم او د بابُ الکَعبه ترمینځه د رُکنِ عِراقي سره نزدې ﴿5﴾ پهٔ مَقامِ حُفرَه کښې کوم چې د بابُ الکعبه او د حطیم ترمینځه د کعبې د دیوال پهٔ بیخ کښې دے۔ دې ځائے ته "مَقامِ اِمامتِ جبرائیل " هم وئیلے شي۔ د دواړو جهانو سردار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ دې ځائے کښې حضرت جبرائیل عَلَیْہِ السَّلَام له د پینځوو نـمونځونو د جَمعې ورکولو سعادت هم عطا کړے دے۔ پهٔ دې مبارک ځائے کښې حضرت ابراهیم خَلِیلُ الله عَلَیْہِ السَّلَام " د کعبې د جوړولو" پهٔ وخت خَټه جوړه کړې وه ﴿6﴾ د بابُ الکَعبې طرف ته پهٔ مخ کولو۔ (د کعبې د دروازې پهٔ برابرئ کښې نـمونځ ادا کول د ټولو طرفونو د برابرئ نه افضل دے) [2] ﴿7﴾ د میزابِ رحمت طرف ته پهٔ مخ کولو۔ (وئیلے کیږي چې پهٔ مزار مبارک کښې د سرکارِ عالي وَقار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مخ مبارک دې طرف ته دے) ﴿8﴾ پهٔ ټول حَطِیم کښې خاص طور د میزابِ رَحمت لاندې ﴿9﴾ د رُکنِ اَسوَد او د رُکنِ یَماني پهٔ مینځ کښې ﴿10﴾ د رُکنِ شامي سره نزدې داسې چې "بابِ عُمره" د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شاه مبارکې نه شاته وه۔ که رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د " حَطِیم" دننه نـمونځ ادا کولو او که بهر ﴿11﴾ د حضرتِ آدم صَفِیُّ الله عَلَیْہِ السَّلَام د نـمونځ ادا کولو پهٔ ځائے کښې کوم چې د رُکنِ یَماني ښي یا ګڅ طرف ته دے او ډیر ظاهر دا دي چې مُصَلّٰی آدم پهٔ "مُستَجار" کښې ده - (کتاب الحج، ص 274)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

---

[2] ... دا وئیلے کیږي چې پاکستان او هندوستان هُم د کعبې د دروازې پهٔ اړخ کښې دي۔

## مسجدِ جنّ

دا جماعت د جنَّتُ الْمَعلیٰ پهٔ خوا کښې دے- دلته د مدينے منورې د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د سحر پهٔ نـمونځ کښې د قرآنِ پاک پهٔ تِلاوت اوريدو پيريان مسلمانان شوي وو-

## بوډا پيرے

حضرت سَهل بن عبدُ الله رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه يو بوډا پيرے وليدو کوم چې يوه قيمتي ښکلې چوغه اغوستې وه او د بيتُ الله شريف طرف ته يـې مخ کړے وو او نـمونځ يـې ادا کولو، د هغهٔ پهٔ سلام ګرځولو حضرت سَهل بن عبدُ الله رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه هغهٔ ته سلام وکړو، د سلام جواب يـې ورکړو او اوئې وئيل: تاسو دې چوغې ته حيران يئ! دا چوغه د 700 کالو راسې زما سره ده، ما پهٔ دې چوغه کښې د حضرت عيسیٰ رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام ديدار هم کړے دے، پهٔ دې کښې مې د خوږ آقا مکي مَدَني مصطفٰے مُحَمَّدٌ رَّسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زيارت سعادت هم حاصل کړے دے او نور واورئ، زهٔ پهٔ هُغه پيريانو کښې يم د کومو پهٔ باره کښې چې سُورَةُ الـجِنّ نازل شوے دے- (صفة الصفوة، 357/4۔ بلد الامين، ص128)

جنّ و انسان و مَلَک کو ہے بھروسا تیرا
سروَرا مَرجَعِ کُل ہے دَرِ والا تیرا

(ذوقِ نعت، ص23)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ علٰی مُحَمَّد

## مسجدِ الـرَّايَه

دا جومات د مسجدِ جنّ پهٔ خوا کښې ښي طرف ته دے- ”رايَة“ پهٔ عربی کښې جنډې ته وئيلے شي- دا هُغه تاريخي ځائے دے چرته چې د فتح مکې پهٔ

موقع باندې زمونږه خوږ آقا، د مکې مکرمې سردار، د مدينې منورې سردار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپله جنډه مبارکه لګولې وه۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ علٰى مُحَمَّد

## مسجدِ خَيف

دا په مِنیٰ شريف کښې دے۔ د حِجَّةُ الـوَداع په موقع باندې د مکې مدينې تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دلته نـمونځ ادا کړے دے۔ د مدينې د سلطان، رحمتِ عالَميان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: صَلّٰى فِيْ مَسْجِدِ الْخَيْفِ سَبْعُوْنَ نَبِيًّا يعنې په مسجدِ خَيف کښې 70 انبيائے کرامو (عَلَيهِمُ السَّلام) نـمونځ ادا کړے دے۔ (معجم اوسط، 117/4، حديث: 5407) په يو بَل روايت کښې يـې فرمائيلي دي: فِيْ مَسْجِدِ الْخَيْفِ قَبْرُ سَبْعِيْنَ نَبِيًّا يعنې په مسجدِ خيف کښې د 70 انبيائے کرامو (عَلَيهِمُ السَّلام) قبرونه دي۔ (معجم کبير، 316/12، حديث: 13525) اوس دا جومات مبارک ډير فراخه کړے شوے دے، د مزارونو زيارت نشي کيدے۔ زيارت کوونکو له پکار دي چې ډير په عقيدت او احترام د دې جومات مبارک زيارت وکړي، د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام په خدمت کښې دې داسې سلام عرض کړي: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَنْبِيَآءَ اللّٰهِ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ ط بيا دې ايصالِ ثواب وکړي او دُعا دې وکړي۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ علٰى مُحَمَّد

## مسجدِ جِعِرَّانه

د مکې مکرمې نه د طائِف طرف ته تقريباً د 26 کلوميټره په فاصله باندې دے۔ تاسو هم د دې ځائے نه د عُمرې د پاره اِحرام وتړئ چې د فتحِ مکې نه پس چې کله طائِف شريف فتح کړے شونو په واپسۍ کښې زمونږه آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې ځائے نه د عمرې د پاره اِحرام تړلے وو۔ يوسف بن

ماهَکَ رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه فرمائي: د جِعِرَّانه مقام نه 300 انبيائے کرامو عليهم السّلام د عمرې د پاره احرام تړلے دے، سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په جعرانه کښې خپله اَمسا مبارکه ودروله د هغې نه د اوبو چينه جاري شوه د کومې اوبه چې ډيرې يخې او خوږې وې- (بلد الامين، ص 221- اخبار مکه، 5/62 تا 69) مشهور دي چې په دغه ځائے کوهے دے- حضرت ابنِ عبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهما فرمائي: حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د طائِف نه په واپسۍ کښې دلته قيام کړے وو او دلته يــې مالِ غنيمت هم تقسيم کړے وو- نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په 28 شوَّالُ المُکرَّم د دې ځائے نه د عُمرې د پاره اِحرام تړلے وو- (بلد الامين، ص 220، 221) د دې ځائے نسبت د قُريشو د يوې زنانه طرف ته دے د کومې لقب چې جِعِرَّانه وو- (بلد الامين، ص 127) عوام دې ځائے ته " لويه عمره" وائي- دا ډير ښکلے ځائے دے، حضرت شيخ عبدُ الحق مُحدِّث دِهلوي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه په "اَخبارُ الأخيار" کښې ليکلي دي چې زما پير او مُرشِد حضرت شيخ عبدُ الوهاب مُتَّقي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه ما ته تاکيد فرمائيلے دے چې موقع درته ميلاؤيدله نو د جعرانه (جِ-عِرْ-رانہ) نه ضرور د عمرې د پاره احرام تړۀ ولې چې دا داسې مبارک ځائے دے چې دلته ما د يوې شپې په مختصره شان حصه کښې د 100 نه زيات کرته د مدينے د تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خوب کښې زيارت کړے دے- اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ عَلٰی اِحۡسانِہٖ-

د حضرت شيخ عبدُ الوهاب مُتَّقي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه معمول مبارک وو چې د عمرې د احرام تړلو د پاره به يـې روژه نيوله او پيدل به جعرانه ته تللو-

(اخبار الاخيار، ص 278 ملخصاً)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِيب ❀❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## مسجدِ تَنعِيم

د مسجدُ الــحرام نه تقريباً 7 کلوميټره د حرم شريف د حدونو نه بهر په مقامِ تَنعِيم کښې دا عالي شان جومات جوړ دے، دې ته " مسجدِ عائِشه" هم وئيلے

کیږي- خوش قِسمته زائرین د دې ځائے نه د عمرې د پاره اِحرامونه تړي، عوام دې ځائے ته " وړهٔ عمره" وائي- د دې جومات تاریخي پسِ منظر دا دے چې پهٔ نهمه هجرۍ کښې چې کله حضور سیّدِ عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حج د پاره تشریف راوړلو نو د مسلمانانو خوړهٔ مور جانه حضرت عائِشه صِدِّیقه، طیبه طاهره رَضِیَ اللهُ عَنْهَا ورسره هم وه، د بیمارۍ د ورځو له وجهې یې عمره ادا نکړے شو، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې تشریف راوړلو او هغهٔ یې غمژنه ولیدله نو اوئې فرمائیل: عائِشه پریشانه کیږه مهٔ دا بیماري د بَناتِ آدم (یعني زنانؤ) د پاره لیکلے شوې ده- حُضُور پر نور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې ورور حضرت عبدُ الرحمان بن ابي بکر رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا ته وفرمائیل: عائِشه بوځه او د مقامِ تنعیم نه دې احِرام وتړي او عمره دې وکړي- (بخاری، 1/127، حدیث:317۔ بلد الامین، ص138)

## ابو لَهَب او د هغهٔ د ښځې قبرونه

ابنِ جُبَیر پهٔ خپله سفر نامه کښې لیکلي دي: د تَنعِیم نه لږ لرې ښي اړخ ته د ابو لَهَب او د هغهٔ د ښځې اُمِّ جمیل قبرونه دي پهٔ کومو باندې چې د کاڼو ډیرې جوړ کړے شوي دي اوسه پورې خلق ځي راځي او دا سپیرهٔ قبرونه پهٔ کاڼو باندې وَلي- (وَالعِیَاذُ بِاللّٰه) (بلدالامین، ص 138- تاریخ مکہ، ص 445) نن سبا پته نهٔ لګي چې د هغوئي قبرونه پهٔ نظر راځي که پهٔ زمکه ننوتي دي یا د څه ابادۍ لاندې راغلي دي- بهر حال دا د څهٔ زیارت ځائے نهٔ دے صرف د عبرت د پاره د دې ذِکر وکړے شو-

نہ اُٹھ سکے گا قیامت تلک خدا کی قسم!
کہ جس کو تُو نے نظر سے گِرا کے چھوڑ دیا

## د مسجدِ تَنْعِيم تعميرات

د تَنعِيم پهٔ دې تاريخي ځائے کښې د ټولو نه وړومبے محمد بن علي شافعي رَحۡمَةُ اللّٰـهِ عَلَيۡه جومات جوړ کړو، بيا اَبُو العباس د مکې مکرمې امير پرې قُبّه (يعني گُنبد) جوړ کړو بيا وروستو پرې يوې بوډۍ زنانه ښکلے جومات جوړ کړو- (بلدالامين، ص 138 -139)

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ على مُحَمَّد

## مسجدِ نِمره

دا عالي شان جومات د ميدانِ عَرَفات پهٔ مغرِبي (west ) غاړه باندې خپلې جلوې ښکاره کوي، د دې نور دوه نومونه دي: ﴿1﴾ مسجِدِ عَرَفه ﴿2﴾ مسجِدِ اِبراهيم-

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ على مُحَمَّد

## مسجِد ذِي طُوىٰ

د مسجدُ الـحرام نه د تنعيم طرف ته د تللو پهٔ وخت پهٔ لاره کښې دا جومات دے- د دواړو جهانو سردار، د زړونو قرار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عمرې يا د حج پهٔ مبارک سفر کښې دې جومات مبارک ته شرف عطا کړو او دلته يـې شپه هم تيره کړله- زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ اِتباع يعني تابعدارۍ کښې حضرت عبدُ الله ابنِ عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهما هم پهٔ خپلو مبارکو سفرونو کښې هم داسې کړې وو- (بلد الامين، ص 143- بخاری، 236/1)

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ على مُحَمَّد

## مسجِدِ کَبش

مسجِدِ کَبش د کوهِ ثَبِير پهٔ خوا کښې دے- پهٔ دې مبارک ځائے کښې حضرت ابراهيم خليلُ الله عَلَيۡهِ السَّلَام ته ارشاد وشو:

| | |
|---|---|
| قَدۡ صَدَّقۡتَ الرُّءۡیَا ۚ اِنَّا کَذٰلِکَ نَجۡزِی الۡمُحۡسِنِیۡنَ ﴿۱۰۵﴾ (پ 23 الصّٰفّٰت 105) | ترجمۂ کنزُالعِرفان: بے شـکه تا خوب رښـتیا کړلو، مونږه نیکي کوونکو ته هُم داسې بدله ورکوو-" (بلدالامین، ص 144) |

وئیلے کیږي چې په دې ځائے کښې حضرت اسماعیل ذَبیحُ الله عَلَیۡهِ السَّلَام د ذبح کولو د پاره سملولے شوے وو، هم دلته د جنَّت نه نازل شوے ګډ ذبح شوے وو، دا د دُعا د قبلیدو ځائے دے، اوس د جومات زیارت نشي کیدے- دا ځائے د مکې مکرمې نه د راتللو په وخت د " غټ شیطان" ښي اړخ ته د 70 یا 80 قدمونو په فاصله باندې دے-

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ علٰی مُحَمَّد

## غَارِ مُرسَلات

غارِ مُرسَلات د مِنیٰ شریف د مسجِدِ خَیف نه قُطبي (North) طرف ته په غر کښې دے، دا غر د عرفات شریف نه د مِنیٰ طرف ته د راتللو په وخت ښي طرف ته دے- په سرورِ کائنات صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې په دې مبارک غار کښې "سورۃُ الـمُرسَلات" نازِل شو- وئیلے کیږي چې سرکارِ نامدار صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې مبارک غار کښې تشریف فرما شو نو د بره کاڼي سره یـې سَر مبارک ولګیدو، کاڼے نرم شو او په هغې کښې د سَر مبارک نخښه جوړه شوه- عاشقانِ رسول د برکت حاصلولو د پاره د دې نخښې مبارکې سره خپل سرونه لګوي-

(بلد الامین، ص 215، کتاب الحج، ص 297 بتغیر)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ علٰی مُحَمَّد

## د سَروَرِ عالَم صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنیا ته د تشریف راوړلو ځائے

حضرت علّامه قُطبُ الدِّین رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: د حُضورِ اکرم صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنیا ته د تشریف راوړلو په ځائے کښې دُعا قبلیږي- (بلد الامین، ص 201) دې ځائے

ته د رسیدلو اسانه طریقه دا ده چې تاسو د کوهِ مَروَه سره نزدې پهٔ یوه دروازه باندې بهر ووځئ- مخې ته د نـمونځ کوونکو د پاره ډېر لوئې ځائے جوړ کړے شوے دے، د دې ځائے نه هُغه طرف ته دا مکانِ عالیشان خپلې جلوې ښکاره کوي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د لرې نه به درته ښکاره شي- د خلیفه هارون رشید رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه مور بي بي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها دلته جومات جوړ کړے وو- نن سبا د دغه جومات پهٔ ځائے کښې لائبریري جوړه کړے شوې ده او پهٔ هغې باندې بورډ لګولے شوے دے: " مَـكـتَبَةُ مَكَّةَ الـمُكَرَّمَة "-

## جَبَلِ ابو قُبَيس

دا د دُنیا د ټولو نه وړومبے غَر دے، د مسجِدُ الـحرام نه بهر د صَفا او مَروه سره نزدې دے- پهٔ دې غَر باندې دُعا قبلیږي، د مکې والا به د سوکړې(قحط) پهٔ موقع باندې دلته راتلل او دُعا به یـې کوله- پهٔ حدیثِ پاک کښې دي چې حَجرِ اَسوَد د جنَّت نه دلته نازل شوے وو- (الترغیب والترہیب، 125/2، حدیث:20) دې غَر ته " اَلاَمین" هم وئیلے شوے دے ولې چې پهٔ " طوفانِ نُوح" کښې حَجرِ اَسوَد پهٔ دې غَر باندې پهٔ حفاظت سره تشریف فرما وو، د یو روایت مطابق د کعبې مبارکې د جوړیدو پهٔ موقع باندې دې غَر حضرت ابراهیم خلیلُ عَلَيْهِ السَّلَام ته اواز کړے وو او عرض یـې کړے وو چې: " حَجرِ اَسوَد دلته دے-"
(بلد الامین، ص 204 بتغیر قلیل)

منقول دي: زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ دې ځائے جلوه فرمائیلې وه او سپوږمۍ یـې دوه ټوټې کړې وه- مکه مکرمه د غرونو پهٔ مینځ کښې راګیره ده او د دې نه سپوږمۍ لیدلے کیدله د وړومبۍ (دویمې او دریمې) شپې میاشت ته هِلال وئیلے شي ځکه پهٔ دې ځائے کښې د یادګار پهٔ توګه مسجدِ هِلال جوړ کړے شو- بعضې خلق دې ته مسجِدِ بِلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وائي- وَاللهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَم

پهٔ غر باندې اوس شاهي محل جوړ کړے شوے دے، او اوس د دې جومات مبارک زيارت نشي کيدے- د کال 1409 هجرى د حج پهٔ موسم کښې د دې محل پهٔ خوا کښې بمې چاودنې شوې وې او ډير حاجيان صاحبان پکښې شهيدان شوي وو، ځکه اوس د محل خواوشا کښې سخته څوکۍ کيږي- د محل د حفاظت له وجهې د دې غر پهٔ سرنګونو کښې جوړ کړے شوي د اوداسه ځايونه هم ختم کړے شوي دي- د يو روايت مطابق حضرت آدم صَفِيُّ الله عَلَيْهِ السَّلَام د دې جَبَلِ ابو قُبَيس پهٔ " غارُ الكَنز" کښې دفن دے او د يو مُستَنَد روايت مطابق پهٔ مسجِدِ حَيف کښې دفن دے کوم چې پهٔ مِنیٰ شريف کښې دے- وَاللّٰهُ اَعْلَمُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَم

جَبلِ نور و جَبَلِ ثَور اور ان کے غاروں کو سلام

نور برساتے پہاڑوں کی قِطاروں کو سلام

(وسائلِ بخشش، ص 608)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ علٰى مُحَمَّد

## د حضرت خُديجةُ الـكُبرى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا كور مبارک

د مکې او مدينے سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې تر څو پورې پهٔ مکه مکرمه کښې وو، پهٔ دې کور مبارک کښې اوسيدلو- د عظيم شهزاده ابراهيم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه علاوه د کونينو د شهزادګۍ بي بي فاطِمه زَهرا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا پهٔ شمول د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ټول اولاد دلته دُنيا ته تشريف راوړلو- حضرت جبرئيلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام ډير ځل دې کور مبارک کښې بارګاهِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شو، پهٔ حُضُورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې پهٔ کثرت سره وحي دلته نازله شوه- د مسجِدِ حرام نه پس د دې ځائے نه افضل بَل هيڅ ځائے نشته- د مروه غر پهٔ خوا کښې د بابُ المَروَه نه بهر ګڅ اړخ ته پهٔ ارماني نظر صرف د دې کور مبارک د فضاګانو زيارت وکړئ-

اے خدیجہ! آپ کے گھر کی فضاؤں کو سلام

ٹھنڈی ٹھنڈی دِلکُشا مہکی ہواؤں کو سلام

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## غارِ جَبَلِ ثور

دا غار مبارک د مکي مکرمي ښي طرف د " مَحَلَّۂ مَسفَله" طرف ته څه کم یا زیات د څلور کلومیټره پۀ فاصله پۀ " جبلِ ثَور" کښې دے- دا هُغه مقدس غار دے د کوم ذِکر چې پۀ قرآنِ کریم کښې دے، د مکي مدینے تاجور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل یارِ غار او یارِ مزار، عاشقِ اکبر حضرت صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره د هجرت د سفر کولو پۀ وخت دلته درې شپې قیام کړے وو- کله چې دښمن پۀ لټولو د غارِ ثَور خُلې ته راورسیدلو نو حضرت صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ غمژن شو او عرض یې وکړو: یَا رَسُولَ اللّٰه! دښمنان دومره رانزدې شوي دي چې که هغوئي لاندې خپلو خپو ته وګوري نو مونږ به ووینې، سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تسلي ورکړه او اوئې فرمائیل: :

﴿لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا ۚ﴾ (پ: 10، التوبه: 40)

**ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** غم مۀ کوۀ، بے شکه اللّٰه زمونږ سره دے-"

هم پۀ دې جَبَلِ ثَور کښې قابیل حضرت هابیل رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ شهید کړے وو-

خُوب چُومے ہیں قدم ثَور و حِرا نے شاہ کے

مہکے مہکے پیارے پیارے دونوں غاروں کو سلام

(وسائلِ بخشش، ص 582)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## غارِ حِرا

تاجدارِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د رسالت د اعلان کولو نه مخکښې دلته په ذِکر او فِکر کښې مشغول وو- دا مخ په قبله دے- په سرکارِ نامدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ورمبی وحي په دې غار کښې نازله شوه، کوم چې د ﴿اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِیْ خَلَقَۚ﴾ نه تر ﴿مَا لَمْ یَعْلَمْؕ﴾ پورې آيتونه دي- دا غار مبارک د مسجدُ الحرام نه د مشرق طرف ته تقريباً درې ميله لرې "په جبلِ حِرا" کښې دے، دې مبارک غر ته جَبَلِ نور هم وئيلے شي-

"غارِ حِرا" د غارِ ثَور نه افضل دے ځکه چې غارِ ثَور تر دريو ورځو پورې د دوارو جهانو د سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښېپې ښکل کړې او په "غارِ حِرا" کښې د دوارو جهانو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډيره موده تيره کړه-

قسمتِ ثَور و حِرا کی حِرص ہے　　چاہتے ہیں دِل میں گہرا غار ہم

(حدائقِ بخشش، ص 85)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دارِ اَرقم

دارِ اَرقَم د صفا غونډۍ په خوا کښې وو- کله چې د کافرانو د طرف نه خطرې زياتې شوې نو سرورِ کائنات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې کښې پټ تشريف فرما وو- په دې کور مبارک کښې ډيرو صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم اِسلام قبول کړو- سيّدُ الشُّهَدا حضرت حمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دې کور مبارک کښې اِسلام ته داخل شول- په دې کښې د 10 سيپارې، سُورَةُ الاَنفَال آيت نمبر: 64

يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُكَ اللّٰهُ وَ مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ۠﴿۶۴﴾

نازِل شو- د خليفه هارون رشيد رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه مور بي بي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْها په دې ځائے

کښې جومات جوړ کړو- وروستو نورو خلفاؤ پهٔ خپلو خپلو وختونو کښې د دې پهٔ ښکلا ځلا کښې برخه واخسته- اوس دا پهٔ توسيع کښې شامل کړے شوے دے او د دې اوس هيڅ نخښه نخښانه نهٔ ميلاؤيږي-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## مَحلَّهٔ مَسفَله

دا محله ډيره تاريخي ده، حضرت ابراهيم خليلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام به دلته اوسيدلو، حضراتِ صِدِّيق او فاروق او حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم هم پهٔ دې محله مبارکه کښې اوسيدل- دا محله د خانه کعبې د حصې ديوال "مُستَجار" طرف ته ده -

رحمتیں ہوں اس مَحلّے پر اے ربّ دوجہاں!
تھا مکاں اِس میں نبی کا تھے صَحابہ کے مکاں

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## جنَّتُ المَعلٰی

د جنَّتُ البقيع نه پس جنَّتُ المَعْلٰی د دُنيا د ټولو نه افضله هديره ده- دلته د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت خديجةُ الـكُبریٰ، د حضرت عبدُ الله بن عُمر او د نورو ډيرو صحابهٔ کرامو او تابعينِ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان او د اوليائے کرامو او صالحانو مزارونه مبارک دي- اوس د هغوئي کښدونه، مزارونه وران کړے شوي دي او پهٔ هغې کښې لارې ويستلے شوي دي- ځکه بهر د لرې نه داسې سلام عرض کړئ:

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَاِنَّا اِنْ شَآءَ اللهُ بِكُمْ لَاحِقُوْنَ ط نَسْئَلُ اللهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ ط

په تاسو باندې دې سلام وي اے په قبرونو کښې اوسیدونکو مؤمِنانو او مسلمانانو! او مونږه هم اِنۡ شَآءَالله ستاسو سره میلاؤیدونکي یو، مونږه د الله پاک نه ستاسو او د خپل عافیت طلب ګار یو-

د ځان، د خپل مور پلار او د ټول اُمت د بخښنې د پاره دُعا وکړئ او خاص طور د جنَّت المَعلیٰ والؤ ته ایصالِ ثواب هم وکړئ- په دې هدیره کښې دُعا قبلیږي-

جنّتُ المعلٰی کے مدفُونین پر لاکھوں سلام
بےعدد ہوں رحمتیں اللہ کی ان پر مُدام

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ علٰی مُحَمَّد

## مزارِ (حضرت) مَیمُونه

سرکارِ نامدار صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د (حضرت) میمونه رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا سره د اِحرام په حالت کښې نکاح فرمائیله وه - په مدینه روډ باندې د " نَوارِیه" سره په خوا کښې د مقامِ سَرِف سره دے- دا مزار مبارک اکثر که د مکې مکرمې نه بهر دے خو دلته که حاجیان صاحبان کوشش وکړي نو حاضري کولے شي، د سعادت حاصلولو او د رحمت د نازلیدو په اُمید د حضرت میمونه رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا د مزار شریف ذِکرِ خیر کیږي- بس په مدینه روډ د تنعیم یعني په مسجدِ عائشه رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا باندې چې تیریږي او وړاندې ځي نو د مسجدُ الـحرام نه تقریباً په 17 کلومیټره فاصله د دې اخري سټاف دے، په دې ځائے کښې کوز شئ او شا ته د روډ بَل اړخ ته د مکې مکرمې طرف روان شئ، د لس پینځلس منټه مزل نه پس یو پولیس چیک پوسټ (نکتهٔ تفتیش) دے بیا مَوقِفِ حُجّاج جوړ شوے دے د دې نه لږ مخکښې د روډ هم په دغه طرف یوه چار دیواري ښکاري، دغه د اُمُّ المُؤمِنین حضرت میمونه رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا مزار فائضُ الأنوار دے- دا مزار مبارک د سړک په مینځ کښې دے-

خلق وائي چې د سړک د جوړولو د پاره د دغه مزار د شهيد کولو کوشش وکړے شو خو ټريکټر به اُلټا کيدلو، بيا دلته چار ديواري جوړه کړے شوه- زمونږه د خوږې مور جانې حضرت ميمونه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا کرامت مرحبا!

اَہلِ اِسلام کی مادَرانِ شفیق　　بانُوانِ طہارت پہ لاکھوں سلام

## د وفات نه پس پرې سيِّدَتُنا ميمونه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا انګور وخوړل

د ټولو مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت ميمونه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا د وفات کيدو نه پس کرامت ولولئ او ايمان تازه کړئ- د حضرت ميمونه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا د مزار مبارک ظاهري دروازه کومه چې به هُغه وخت د زيارت کوونکو د پاره کولاؤ وه د هُغه ورځو واقعه ده د يو زيارت کوونکي د خُلې نه يـې واورئ: د نيمې شپې مونږه د مکې مکرمې نه د مدينے منورې طرف ته پهٔ لاره باندې سَرِف نومې ځائے ته ورسيدلو چرته چې د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت ميمونه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا مزار مبارک دے، عجيبه اتفاق وو چې پهٔ هُغه ورځ ما څهٔ نهٔ وو خوړلي، د لوږې پهٔ وجه پهٔ ما کښې طاقت نهٔ وو، د ډوډۍ حاصلولو مې ډير کوشش وکړو خو چرته راته هم ميلاؤ نهٔ شوه، مجبوراً د زيارت د پاره حجرې مبارکې ته لاړم، ما مزار مبارک ته سلام عرض کړو، سُورَةُ الْـفاتِحه او سُورَةُ الِاخلاص مې ولوستلو او د هغوئي رُوح مبارک ته مې ايصالِ ثواب کړو، د فقير پهٔ شان اواز مې وکړو: ” اے خوږې مور جانې! زهٔ ستاسو ميلمه يم، د خوراک د پاره راته څهٔ راکړئ او د خپل لطف او کرم نهٔ مې محرومه واپس مهٔ ليږئ-“ زهٔ ناست ووم چې د رزاقِ مُطلَق د طرف نه ناڅاپه د انګورو تازه دوه ګنګورې زما لاس ته راغلل! عجيبه خبره دا وه چې د يخنۍ موسم وو او چرته هم تازه انګور نهٔ وو، زهٔ حيران پاتې شوم، يو ګنګورے خو ما هلته وخوړلو، د مزار مبارک نه بهر راغلم او د انګورو د دويم ګنګورې نه مې يوه يوه دانه خپلو ملګرو له ورکړه- (مخزنِ احمدی، ص99)

ہاتھ اُٹھا کر ایک ٹکڑا اے کریم!
ہیں سخی کے مال میں حقدار ہم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ علٰى مُحَمَّد

## دا رساله د ثواب پۀ نيت نورو سره هُم شيئر کړئ

د غم ښادۍ پۀ دستورو، اجتماعاتو، عُرسونو، د میلاد پۀ جلوسونو وغیره کښي د مکـتبة الـمدينه چاپ کړے شوي رسالي او د مَدَني ګلونو پمفلټس تقسيم کړئ او ثواب وګټئ، ګاهک ته د ثواب پۀ نيت پۀ تحفه کښي د ورکولو د پاره پۀ خپلو دکانونو کښي د رسالو کېښودو معمول جوړ کړئ، د اخبار خرخوونکو پۀ ذريعه د خپلې محلې کور کور ته د مياشتې کم از کم يوه د سُنَّتو ډکه رساله يا د مَدَني ګلونو پمفلټ ورکړئ او د نيکۍ دعوت عام کړئ او ډير ډير ثواب وګټئ۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ علٰى مُحَمَّد

## د راروانې هفتې رساله




فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ کراچۍ
UAN +92 21 111 25 26 92    0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net